داسوګنی او ځان ساتنی خبرپاڼ

نوم:

دپیژندلو شمیره/شمیره د cpr :

**به دی ترتیب زه هوګړه کوم، چی زه به په فعاله توګه کار کوم چی خپله ځان ساتنه، د خپلو دلته استوګنو ماشومانو، او د خپلی میرمن/خاوند/ دژوند ملګری تظمین کړم، فعاله ونډه په او مرسته د ډ نمارک ټولنه کی وکړم.**

**له همدی امله زه لاندی هوکړه اعلانوم:**

- زه به په هر ډول د ډنمارک دقوانیونوپیروی کوم او د ډنمارک دیموکراتیکواصولو ته به درناوی کوم.
- زه تصدیق کوم، چی ډنمارکی ژبه او د ډنمارک د ټولنی سره پیژندګلوی په ډنمارک کی د ښه ژوند کیلی ده.
- زه تصدیق کوم، چی هر یو اوسیدونکی او کورنی دا مسؤلیت لری چی خپل ځان وساتی.
- زه تصدیق کوم، چی نارینه او ښځی په ډنمارک کی مساوی مکلفیتونه او حقوق لری، او دواړه، نارینه او ښځی باید په ټولنه کی مرسته وکړی. نارینه او ښځی برابرحقوق - اوبعضی مواردو کی مکلفیت لری - چی تحصیل او کاروکړی، ددی په شان چی نارینه او ښځی هماغه یو شان حقوق لری چی په دیموکراتیکوپروسو کی برخه واخلی. دواړه، نارینه او ښځی مکلفیت لری چی مالیات ورکړی اود والدینو مسؤلیت د خپلو ماشومانو په وړاندی ولری.
- زه پوهیږم، چی دا په ډنمارک کی یوجرم دی چی د خپل د ژوند ملګری پر وړاندی او یا نورو په شمول د ماشومانو تاوتریخوالی او یاغیر قانونی جبر وکاروی.
- زه تصدیق کوم، چی په ډنمارک کی باید برابر احترام او د پرمختیا برابرفرصتونه د ټولو ماشومانو لپاره موجود وی - دواړه، نجونی او هلکان- چی وکړای شی لوی شی او فعال او با مسؤلیته اوسیدونکی جوړ شی، تر څو وکولای شی د خپل انتخاب په اړه تصمیم ونیولای شی. زه غواړم اطمینان حاصل کړم چی زما اولادونه بهترین ممکن پرورش او د مکتب دوره ولری او همچنین په فعالانه توګه د ډنمارک په ټولنه کی ونډه واخلی. په شمول ددی، چی زه غواړم چی اطمینان حاصل کړم، چی د امکان ترحده پوری زما ماشومان ژر تر ژره ډنمارکی زده کړی او په مکتب کی وړتیاوی تر لاسه کړی او زه غواړم په فعاله توګه د ماشومانو د ورځنی روزنی د ځایونواو یا مکتب سره مرسته وکړم.
- زه پوهیږم چی د نجونو سنت کول اوهمچنان د جبر څخه کار اخیستل په واده کولو کی په ډنمارک کی جرمی عملونه دی.
- زه د هر انسان فردی آزادی او شخصی بشپړتیا ته درناوی لرم، جنسیتی مساوات او دعقیدی– او دبیان آزادی، په ډنمارک کی اساسی و بنستیز دی.
- زه پوهیږم، چی تبعیض په دلیل په شمول د جنسیت یا د پوستکی د رنګ او ګوابنونه او مسخری د ډلو په وړاندی په دلیل د عقیدی یا جنسی تمایلاتو په ډنمارک کی جرمی عملونه دی.
- زه تصدیق کوم، چی د ډنمارک ټولنه په شدت سره له ترهګری څخه واټن اخلی. زه پوهیږم، چی هغه، چی د هغه مواردوشاهد وی، چی په هغی کی موخه د یو جرم ترسره کول ده، چی د هغی هدف د خطراتو رامنځ کول دی د انسانانو د ژوند یا رفاه لپاره، اویا دپام وړد ټولنیزوارزښونولپاره، اساسا دا مکلفیت لری چی هغه څه وکړی، چی دهغی په توان کی وی، ترڅو د جرم اویا دهغی دپایلو څخه مخنیوی وکړی، د اړتیا په صورت کی حتی پولیسو ته راپور هم، او ددی کار د نه کولو په صورت کی کیدای شی په جریمی یا دری کاله زندان سره مجازات شی، که چیری جرم ترسره شی او یا د ترسره کیدو هڅه یی شوی وی.
- زه تصدیق کوم، چی فعاله برخه اخیستل یو لازم شرط دی چی وکړای شی په ټولنه کی ګډون او مرسته وکړی، بغیر ددی په پام کی نیولو سره چی زما اقامت په دی هیواد کی څومره ادامه کوی.

- زه پوهیږم، چی زما د اقامت چارچوکات په ډنمارک کی زما د اقامت د بنسټ پر اساس تعریف شوی دی، چیرته چی د بعضو ډلو لپاره په اصل کی، دا اقامت موقت دی.

- زه پوهیږم، چی یو څوک د پناهنده په صفت اساسا د اقامت اجازی حق نلری، که چیری د هغی په هیواد کی شرایطو په داسی شکل بدلون کړی وی، چی نورمحافظت ته اړتیا موجود نه وی، او هغه کس وکولای شی چی خپل هیواد ته بیرته ستون شی. زه پوهیږم، چی هغه کس چی دکورنی دبیا یوځای کیدو له طریقه یو پناهنده سره اساسا د اقامت د اجازی حق نلری، که چیری د دلته استوګن کډوال نورمحافظت ته اړتیا موجود نه وی. زه پوهیږم، چی یوه مؤقته د اقامت اجازه پر دی اساس کولای شی بیرته واخیستل شی او یا د هغی تمدید رد کړای شی.

- زه پوهیږم، چی فعال ګډون، او دا چی د ډنمارک ټولنی سره مرسته کول او په خپلو پخو دریدلو لپاره هڅی کول هم کولای شی یوه توانایی حساب شی خپل هیواد ته می د بیرته ستنیدو په صورت کی.

- زه پوهیږم، چی یو کس د دی ځای استوګن پناهنده په صفت کولای شی د مالی مرستی غوښتنه د داوطلبانه بیرته ستنیدو د قانون په پر اساس وکړی، چی وکولای شی خپل اصلی هیواد اویا هغه هیواد ته چی پخوا یی هلته استوګنه لرله سفر وکړی، که چیری دا کس ددی آرزو ولری.

**زه ـ د یو نوی راغلی خارجی په صفت ـ سربیره پر دی آګاه یم، چی دا دنوی راغلو خارجیانو لپاره د تطبیق وړ دی، چی:**
( لاندینی ټکی یواځی د نوی راغلو خارجیانو لپاره مرتبط دی، چی هوګړه لیک لاستیک کوی )

- زه غواړم ډنمارکی زده کړم او ژر تر ژره د ډنمارک ټولنی په اړه پوهه تر لاسه کړم. زه پوهیږم، چی زه کولای شم ډنمارکی ژبه د ډنمارکی ژبی زده کړی کی په برخه اخیستلو سره، چی ښاروالی یی ماته وړاندیز کوی، زده کړم.

- زه به هڅه وکړم، چی ژر تر ژره د کار په بازار کی د ګډون له لاری ځان په خپلو پخو ودروم. زه پوهیږم چی دا کولای شی له ما سره مرسته وکړی د عادی کار په لاس ته راوړلو کی او په خپلو پخو دریدلو کی، چی زه په هغه فعالیتونو کی ګډون وکړم، په هغه ډول چی ما په خپل قرارداد کی د ښاروالی سره توضیح کړی دی.

- زه پوهیږم، چی زما د اقامت د اجازی تمدید په دی شرط دی، چی د اقامت د اجازی دلایل اوس هم پر خپل ځای وی، او دا چی څوک د پناهنده په صفت اساسا د اقامت د اجازی حق نلری، چی د محافظت اړتیا نوره موجود نه وی، او هغه کس وکولای شی چی خپل هیواد ته بیرته ستون شی. زه پوهیږم، چی هغه کس چی دکورنی دبیا یوځای کیدو له طریقه یو پناهنده سره اساسا د اقامت د اجازی حق نلری، که چیری د دلته استوګن کډوال نورمحافظت ته اړتیا موجود نه وی.

نیته :                                                    لاسلیک :